# Security Council

Distr.: General

27 April 2023

## ۲۶۸۱ پریکړه لیک (۲۰۲۳)

**دملګرو ملتونو دامنیت شورا له خوا د۲۰۲۳ کال د اپریل پر ۲۷مه په ۹۳۱۴ مه غونډه کې تصویب شو،**

د امنیت شورا،

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پریکړه لیکونو په پام کې نیولو سره،

د افغانستان دملي حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا اوملي یووالي په اړه پر خپلې قوي ژمنې بیا ټینګار کوي او همدارنګه د یوه سوله ایز، باثباته، سوکاله او ټولشموله افغانستان او دافغانستان له خلکو پر ملاتړ یو ځل بیا ټینګار کوي. په عین حال کې د افغانستان دسیاسي راتلونکي او پرمختګ لپاره دژمنتیا په برخه کې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت له ټولشموله او هر اړخیزو اصولو خپل ملاتړ اعلانوي.

د څو اړخیزو ننګونو د حل کولو دارتیا پېژندل چې دامهال افغانستان ورسره مخامخ دی چې یوازې په بشردوستانه مرستو، اقتصادي او ټولنیزې ننګونو پورې محدودې نه دی، بلکې د پراختیا، امنیت، ترهګرۍ، مخدره توکو، خبرې اترې او ښکیلتیا، حکومتولي، د قانون حاکمیت، او همدارنګه د بشري حقونو او په ځانګړې توګه دښځو، نجونو، مذهبي او قومي اقلیتونو حقونو مسایل دي.

په افغاني ټولنه کې د ښځو پر اړین رول، له هغې ډلې د شخړو په مخنیوی او حل، د سولې په ټینګولو، او دبشردوستانه مرستو په رسولو او د افغانستان په راتلونکي او اوږدمهاله پرمختګ کې د دوی دبشپړ، سوله ییز، خوندي ګډون او د امنیت او سولې دساتلو او ترویج په ټولو هڅو کې ددوی ښکیلتیا او د شخړو د مخنیوي په پار د تصمیمونو د نیولو په برخه کې د دوی د رول د زیاتوالي پر اړتیا ټینګار کوي.

بشري حقونو ته په زیاتیدونکي ډول د درناوي نه کولو او دطالبانو لخوا په افغانستان کې د ښځو او نجونو دحقونو، د بنسټیزې ازادۍ، په ځانګړې توګه زده کړو، او دکار په ګډون اقتصادي فرصتونو، په عامه ژوند کې دبشپړې برخې نه لرلو، د تګ راتګ ازادۍ، عدالت او بنسټیزو خدماتو ته د ښځو او نجونو د مساوي لاسرسي د نشتوالي په اړه ژوره اندیښنه څرګندوي چې له کبله یې سوله، ثبات، او په هیواد کې سوکالي ناشونې ده.

پر دې خبره بیا ټینګار کوو چې په اغیزمن ډول د بشردوستانه مرستو رسول په بشپړ، چټک او خوندي ډول ټولو اړخونو ته اړتیا لري چې له نړیوال قانون سره سم دې د ملګرو ملتونو دښځینه کارکوونکو په ګډون دټولو نړیوالو او ملي غیر دولتي سازمانونو او نورو بشردوستانه ادارو ټولو کارکوونکو ته له خنډ پرته بشردوستانه مرستو او خدماتو ته دخوندي لاسرسي اجازه ورکړي.

د طالبانو د وروستۍ پریکړې په اړه چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغان میرمنو د کار کولو مخنیوی کوي، ژوره خواشیني څرګندوي چې د پخوانیو محدودیتونو سربیره چې پر نړیوالو او ملي غیر دولتي موسسو کې د افغان میرمنو په کار کولو یې بندیز لګولی و، ترټولو زیانمنونکو کسانو ته د ژوند ژغورونکو مرستو او لومړنیو خدماتو رسولو په ګډون به د ملګرو ملتونو پر چارو به منفي او ژورې اغیزې وکړي ، او

همدارنګه د خپل ماموریت د پلي کولو په برخه کې به د یوناما وړتیا په بشپړه توګه زیانمنه کړي، او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د منشور د اتمې مادې یادونه کوو،

ټینګار کوي چې په ملګرو ملتونو کې د افغان ښځو له کاره منع کول د ملګرو ملتونو په تاریخ کې بې سارې عمل دی.

د بشري عملیاتو لپاره د تمویل د تشې په ګډون، په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي او بشري وضعیت په اړه خپله ژوره اندیښنه څرګندوي، په داسې حال کې چې په افغانستان شپږ ملیونه وګړي د قحطۍ له ناورین سره د مخامخ کیدو یو ګام واټن لري او د مرستې اړتیا په ګوته کوي. د بانکدارۍ او مالي سیستمونو د بیا رغولو په ګډون د افغانستان د اقتصاد پر وړاندې د پام وړ ننګوني شته او همدارنګه د بشري مرستو او نورو فعالیتونو لپاره چې په افغانستان کې د بنسټیزو بشري اړتیاوو سره مرسته کوي، د پام وړ هڅې پکار دي،

۱. د طالبانو لخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغان ښځو د کار کولو د منع کولو پریکړه غندي، کوم چې بشري حقونه او بشري اصول تر پښو لاندې کوي.

۲. په افغانستان کې د ښځو او نجونو د بشپړ، مساوي، معنی لرونکي او خوندي ګډون غوښتنه کوي، په طالبانو غږ کوي چې په بیړه هغه تګلارې او کړنې بیرته واخلي چې د ښځو او نجونو د بشري حقونو او د دوی د بنسټیزو آزادیو په شمول د دوی د حقونو خوندي کیدل محدودوي او همدارنګه ښوونې او روزنې، کارموندنې، د تګ راتګ ازادۍ او په عامه ژوند کې د ښځو بشپړ، مساوي او معنی لرونکي ګډون ته لاسرسی محدودوي، او له ټولو دولتونو او سازمانونو څخه غوښتنه کوي چې د ملګرو ملتونو د منشور سره سم د خپل نفوذ څخه کار واخلي، ترڅو دوی له خپلو کړنو او پالیسو په شا شي.

۳. خپله غوښتنه بیا تکراروي چې ټولې خواوې دې د ملګرو ملتونو د بشردوستانه ادارو پرسونل، د دوی شریکانو، نورو بشردوستانه فعالینو او د بنسټیزو خدمتونو چمتو کونکو ته د جنسیت په پام کې نیولو پرته د بشپړ، چټک، خوندي او بې خنډه بشري لاسرسي اجازه ورکړي؛

۴. په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي او بشري وضعیت او د افغانانو لپاره د اړینو خدماتو نشتوالي او اقتصادي ټولنیزو شرایطو ته د رسیدو پر بیړنۍ اړتیا ټینګار کوي کوم چې افغانستان د ځان بسیاینې لور ته بیایي او د ثبات لامل کیږي او د افغانستان د اقتصاد په وړاندې د پام وړ ننګونو په حل کې مرسته کوي، همدارنګه د افغانستان د مرکزي بانک پورې تړلې پیسې دې د افغانانو د ګټو لپاره و کارول شي؛

۵. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو او پروګرامونو د دوام پر اهمیت ټینګار کوي، د یوناما او د سرمنشي د ځانګړې استازې له کار څخه خپل بشپړ ملاتړ بیا تکراروي، او په ټولو اړوندو افغان سیاسي مشرانو، اړوندو چاراکو اونړیوالو فعالینو غږ کوي چې له یوناما سره د ماموریت په پلي کولو کې همغږي وکړي او په ټول هیواد کې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو خوندیتوب، امنیت او د تګ راتګ ازادي تضمین کړي؛

۶. په ډاګه کوي چې د افغانستان د ټولو اړخونو، سیمې او نړیوالې ټولنې ترمنځ خبرې اترې، مشورې او ښکیلتیا په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي او همدارنګه په هیواد او سیمه کې د سولې او ثبات لپاره خورا مهمې دي او په دې برخه کې د هر جوړجاړي لپاره د ډیپلوماتیکو هڅو هرکلی کوي.

۷. پریکړه کوي چې موضوع ته په فعاله توګه رسیدګي کوي.